مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

تمهید سیلاني ۲۰۱۹/۰۹/۱۵

# د پښتو، دري او ترکي ژبو د ځانګړو نومځرو پرتلنه

## د پښتو د ځانګړو نومځرو برخه

**د نومځري پېژندنه:** نومځری هغه کلمه ده، چې د نوم پرځای کارول کیږي او یاهم نوم ته اشاره وکړي، که موږ ورسره وواېو چې د نوم له تکرار څخه مخنیوی کوي، دغه جمله په ټولو حالاتو کې صدق نه کوي. د بېلګې په توګه: (( زه، ما، تا او … )) لپاره چې نیغ په نیغه له نومځري څخه کار اخستل کیږي او له سره نوم ته اړتیا نه پیدا کیږي، چې بیایې د تکرار مخنیوی وشي. نو وایو: نومځری هغه کلمه ده چې دنوم پر ځای کارول کیږي او یاهم یو څوک یاشی په ګوته کړي. د غه پېژندنه په ټولو ځایونو کې دکارولو وړ ده. نومځري نه یوازې د وګړیو لپاره کارول کیږي، بلکې د ژویو اوشیانو لپاره هم کارو کیږي. یا په بله وینا هر هغه څه چې نوم لري، نومځری هم ورته د کارولو وړ دی. په تولیزه توګه نومځري په لومړی، دویم او دریېمو دلو باندې وېشل کیږي: غواړم دغه موضوع څه روښانه کړم:

لومړی شخص: هغه څوک چې خبرې کوي.
دویم شخص: مخاطب یا خبرې اورېدونکی.
درېیم شخص: د درېیم وګړي لپاره دري حالتونه (معلوم موجود، معلم ناموجود او نامعلوم ناموجود) کارول کیږي. غواړم د درېیمي شخص برخي وسپړم، ترڅو لوستونکي په اسانی سره وکولی شي مطلب واخلي :

- هغه موجود معلوم شخص یا شي چې د هغه په باره کې لومړی او دویم شخص خبرې کوي (یو ګړی، دېرګړي، نارینه، ښځینه او په شیانو کې هم مفرد، جمع، مذکر او مونث دي).
- معلوم ناموجود (غایب) : هغه کس یا شیان چې له خبرې کوونکي او خبرې اورېدونکي سره موجود نه وي، خو مخکې یې په خبرو کې نوم اخستل شوی وي او هغوی په باره کې خبرې کوي.
- نامعلوم ناموجود (غایب) : هغه کس یا څه چې له خبرې کوونکي او خبرې اورېدونکي سره موجود نه وي یا په بله وینا: هغه کس یا څیز چې له لومړي او دویم شخص سره موجود نه وي همدارنګه نه ترې خبر وي چې (نارینه، یوګړی، دېرګړی، ښځینه یو ګړې او دېر ګړې او… ) دي خو دهغه په باره کې خبرې کوي، نومځري یې هم ( څوک، چا او څه شی ) دي.

نومځري دوه لويې دندې ترسره کوي:
لومړی: د نوم له تکرار څخه مخنیوی کوي.
دویم: د یوشي د ټاکلو لپاره کارول کیږي چې موږ ورته د (ټاکندوی نومځري) نوم کارولی شو.
په پښتو ژبه کې نومځري د بڼې او دندې له پلوه په دوو لویو دلو وېشل کیږي او تر هغه وروسته بیا د غښتلو نومځرو برخه یې په خپل منځ کې، په دوو نورو دلو وېشل کیږي چې په لاندې توګه ښودل کیږي:
نومځري

1. غښتلي، خپلواک یا هم منفصل
   1. لومړی حالت
   2. دویم حالت
2. کمزوري، ناخپلواک یا هم متصل

اوس په ترتیت سره غواړم د نومځرو دولونه در وپیژنم:

- **ځانګړي یا شخصي نومځري (personal pronouns)**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځانګړي یا شخصي نومځري هغه نومځري دي، چي د نوم پر ځای کارول کیږي او له دریبوو اشخاصو ( متکلم، مخاطب او غایب ) څخه پر یو دلالت کوي او د همدغو دریبو اشخاصو له پاره ګردانیږي. شخصي نومځري هم د نومونو په څېر د جنس، عدد او حالت له مخي ګردانیږي. نومورړي په دوو برخو وېشل کیږي: غښتلي، خپلواک یا هم منفصل او کمزوري، ناخپلواکه یا هم متصل نومځري.

- **غښتلي ( خپلواک ) نومځري (personal strong pronouns):**

غښتلي نومځري هغه دي چي په ځانګړي ډول بشپړه معنا انتقال کړای شي او پرته له جملي هم وکارول شي. دغه نومځري په لاندي ډول دي:

**لومړی: اصلي حالت**

زه : د لومړي شخص، متکلم ( نارینه او ښځینه ) لپاره کارول کیږي. لکه : زه کار کوم یا زه لوبه کوم. هېره دي نه وي چي د (( زه )) نومځری د نارینه او ښځینه لپاره یو ډول کارول کیږي...

ته : دویم شخص، مخاطب ( نارینه او ښځینه ) لپاره کارول کیږي. ته څه شی کوې؟ ته چېرته وې؟ ته لوبه کوې، ته ډوډۍ خورې... دا نومځری هم د نارینه او ښځینه لپاره یو ډول کارول کیږي.

دی : د دریېم شخص نارینه لپاره کارول کیږي. لکه : دی اوبه څښي، دی خبرې کوي یا هم دی کتاب لولي. ځیني لیکوالان لیکي: چي د (( دی )) نومځری د دریم غایب کس لپاره کارول کیږي، ولي مونږ کولی شو دا نومځری د موجود دریم کس لپاره هم وکارو.

دا : د دریېم ښځینه شخص لپاره کارول کیږي. لکه : دا لیکل کوي، دا ځوک ده ؟ دا لوبه کوي...

هغه : د دریېم نارینه او ښځینه اشخاصو لپاره کارول کیږي. لکه : هغه کالي وینځي. هغه موټر جوړوي.... په اصلي حالت کي د نارینه او ښځینه دواړو لپاره کارول کیږي.

**لومړی حالت له کومو افعالو سره په کوم زمانو کي کارول کیږي؟**

- لازمي فعل سره په دري واړو زمانو ( مهالونو) کي کارول کیږي. لکه:
- اوس مهال (زمانه) : زه ځم، ته ځې، دی ځي، دا ځي او هغه ځي.
- راتلونکی مهال ( زمانه ) : زه به ولاړ شم، ته به ولاړ شې، دی ولاړ شي، دا به ولاړه شي او هغه به ولاړه شي .
- تېرمهال ( زمانه ) : زه ولاړم، ته ولاړې، دی ولاړه، دا ولاړه، هغه ولاړ، هغه ولاړه .

یادونه : لازمي فعل هغه فعل ته وایي،چي یوازې په فاعل او فعل باندې پای ته ورسیږي. لکه: زه ځم . زه فاعل او ځم فعل دی.

- له متعدي فعل سره په اوس مهال او راتلونکي مهال کي کارول کیږي.
- اوس مهال ( زمانه ): زه لوبه کوم، ته لوبه کوې، دی لوبه کوي، دا لوبه کوي او هغه لوبه کوي.
- راتلونکی مهال ( زمانه ): زه به لوبه وکړم، ته به لوبه وکړې، دی به لوبه وکړي، دا به لوبه وکړي او هغه به لوبه وکړي.

یادونه : متعدي فعل هغه فعل ته وایي: چي په فاعل، مفعول او فعل پای ته ورسیږي. لکه: زه خط لیکم. زه فاعل، خط مفعول او لیکم فعل دی.

- له حکمي متعدي سره په اوس مهال او راتلونکي مهال کي کارول کیږي.
- اوس مهال : زه خاندم، ته خاندې، دی خاندي، دا خاندي او هغه خاندي.
- زه به خاندم، ته به خاندې، دی به خاندي، دا به خاندي او هغه به خاندي.

یادونه : حکمي متعدي فعل: هغه فعل دی چي په بڼه کي لازمي فعل ته ورته وي یعني له یو فعل او فاعل څخه را منځته شوی وي، مګر په تېره زمانه کي همدا فعل د نومځري د اصلي حالت پر ځای دویم حالت خپل کړي او فعل د فاعل لپاره ګردان نشي. لکه: اوس مهال : زه ژاړم، راتلونکی مهال: زه به ژاړم او تېر مهال: ما ژړل ، تا ژړل، ده ژړل، دې ژړل او هغې ژړل... تاسو ولیدل چي په تېره زمانه کي یې دنومځري دویم حالت ځانته خپل کړ.

**دویم : غیر اصلي، اوښتی یا دویم حالت**

د ځانګړو نومځرو دا برخه په تېره زمانه کي له حکمي متعدي او متعدي فعل سره کارول کیږي.

ما : د زۀ دویم حالت دی. د ښځینه او نارینه دواړو لپاره کارول کیږي. لکه : حکمي متعدي فعل: ما خندل، ما ژړل... متعدي فعل : ما خط ولیکه. ما درس ولوست....

تا : د تهٔ دویم حالت دی. د نارینه او ښځینه دواړو لپاره کارول کیږي. حکمي متعدي فعل : تا خندل، تا ژړل... تا خط ولیکه ، تا درس ولوست....

دهٔ: د دی دویم حالت دی او یوازې د نارینو لپاره کارول کیږي. حکمي متعدي فعل: دهٔ خندل، دهٔ ژړل... متعدي فعل: دهٔ خط ولیکه، دهٔ درس ولوست....

دې : د دا دویم حالت دی. او یوازې د ښځینو لپاره کارول کیږي. حکمي متعدي فعل: دې خندل، دې ژړل... متعدي فعل: دې خط ولیکه، دې درس ولوست....


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

هغهٔ : د هغه دویم حالت دی. او یوازې د نارینوو لپاره کارول کیږي. حکمي متعدي فعل: هغهٔ خندل، هغهٔ ژړل...
هغهٔ خط ولیکه، هغهٔ درس ولوست....
هغې : د هغه دویم حالت دی: او یوازې د ښځینوو لپاره کارول کیږي: حکمي متعدي فعل : هغې خندل، هغې ژړل
... متعدي فعل: هغې خط ولیکه، هغې درلوست....
**دریم : جمع حالت:** د ځانګړو نومځرو دا برخه له لازمي او متعدي فعل سره په ټولو مهالونو کي کارو کیږي.
موږ: د زهٔ جمع حالت دی. لومړی: لازمي فعل سره:

- اوس مهال : موږ ځو، موږ خاندو
- راتلونلونکی مهال: موږ به ولاړ شو، موږ به و خاندو
- تېر مهال: موږ ولاړو، موږ خندل.

له متعدي فعل سره :

- اوس مهال:  موږ خط لیکو، موږ درس لولو...
- راتلونکی مهال : موږ به خط ولیکو، موږ به درس لولو....
- موږ خط ولیکه، موږ درس ولوست.

تاسو، تاسي: د تهٔ جمع حالت دی. له لازمي فعل سره په درېواړو مهالونو کي:(( تاسو ځئ، تاسو به ولاړ شئ او تاسو ولاړئ))، له متعدي فعل سره په درېواړو مهالونو کي: (( تاسو خط لیکئ، تاسو خط ولیکه او تاسو به خط ولیکئ)).
دوی: د دی او دا جمع حالت دی. له لازمي فعل سره په ټولو مهالونو کي: ((دوی ځي، دوی به ولاړ شي ، دوی ولاړه یا هم دوی ولاړې))، له متعدي فعل سره په ټولو مهالونو کي: ((دوی خط لیکي، دوی به خط ولیکي، دوی خط ولیکه )).
هغوی: د هغه جمع حالت دی. له لازمي فعل سره په ټولو مهالونو کي: (( هغوی ځي، هغوی به ولاړ شي ، هغوی  ولاړه یاهم هغوی ولاړې))، له متعدي فعل سره په ټولو مهالونو کي: ((هغوی خط لیکي، هغوی به خط ولیکي، هغوی خط لیکه)).

- **ځانګړي ناخپلواک، کمزوي یا هم متصل نومځري ( weak personal pronouns )**

دغو نومځرو ته ځکه کمزوري نومځري وایي، چي د جملي په پیل کي نه راځي، بلکي د جملي په منځ او پای کي راځي. ددغو نومځرو ځانګړنه داده: چي له نورو  کلمو سره یوځای رانه شي، په یوازې توګه کومه معنا نه ورکوي، همدا لامل دی چي کمزوري نومځري یې بولي. یاد نومځري په  جمله کي د فاعل، مفعول، مضاف الیه او ملکي نومځرو پر ځای راتلی شي. دغه نومځري پینځه دي،ځکه پینځه دي: چي د دریمو او ناموجودو معلومو او نامعلومو ټولو اشخاصو ( دی- دوی، دا- دوی، هغه-هغوی، څوک) لپاره یوازې د (( یې )) نومځری کارول کیږي. چي په لاندې توګه ښودل کیږي.

| | |
|---|---|
| مې | مو |
| دې | مو |
| یې | یې |

پورته نومځري په ترتیب سره (مې/ مفرد متکلم)، ( مو/ جمع متکلمین)،( دې/ مفرد مخاطب)، ( مو/ جمع مخاطبین) او ( یې/ د ټولو دریمو لپاره کارول کیږي).

- د فاعل په توګه : په دغه حالت کي یوازې په تېره زمانه کي کارول کیږي،لکه: خط مې ولیکه، خط مو ولیکه، خط دې ولیکه،خط یې ولیکه او خط دې ولیکه  . دلته ( مې،دې، یې، مو) د فاعل په توګه واقع شوي.
- د مفعول په توګه: دغه نومځري په مفعولي حالت کي یوازې په دوو مهالونو کي ( اوس او راتلونکي ) کي کارول کیږي. لکه : اوس مهال : (( احمد مې وهي، احمد مو وهي، احمد دې وهي، احمد  یې وهي))، راتلونکی مهال:(( احمد به مې وهي، احمد به مو وهي، احمد به دې وهي، احمد به یې وهي )).
- د ملکي نومځري او مضاف الیه په توګه: دغه نومځري په دغه برخه کي په دریو زمانو کي کارول کیږي.

لکه : اوس مهال: (( قلم مې ورک دی، قلم مو ورک دی، قلم دې ورک دی، کتاب یې ورک دی))، راتلونکی مهال:  (( قلم به مې ورک شي، قلمونه به مو ورک شي، قلم به دې ورک شي، قلم به یې ورک شي)) او تېر مهال: (( قلم مې مات شو، قلمونه مو مات شول، قلم دې مات شو، قلم یې ورک شو)).
یادونه : کمزوري نومځري په فاعلي حالت کي یوازې په  راتلونکي زمانه کي،مفعولي حالت کي په اوس مهال او راتلونکي زمانه کي او په اضافي حالت کي په دریو واړو زمانو کي کارول کیږي.

**د فارسي/ دری ژبې ځانګړي نومځري**

ضمایر شخصی

این ضمیر جانشین اسم میشود و نمودار شخص (متکلم، مخاطب، غایب) و مفرد و جمع است. ضمیر شخصي به حیث کلمهی مستقل و دارای معنای لغوی در زبان دری، صرف یک نوع است؛ همان که به نام ضمیر منفصل (جدا،گسسته) معمولاً یاد می شود. (نکهت سعیدي، دستور معاصر زبان دری)

ضمیر شخصی ضمیری است که برشخص ویا شی دلالت می کند و شش صیغه دارد: سه مفرد و سه جمع. ضمیر شخصي دو گونه است: ضمیر جدا و ضمیر پیوسته. ضمیر جدا که مانند کلمه مستقلی است گاهی فاعل واقع می شود، گاهي هم مفعول و گاهي هم متمم فعل، گاهي هم متمم اسم ( یا مضاف الیه) و گاهی متمم صفت. ضمیر پیوسته جزئی است که به فعل یا اسمی می پیوندد و هرگز جداگانه بکار نمیرود. ضمیر پیوسته اگر به فعل بپیوندد، مفعول است و اگر به اسم متصل شود متمم اسم یا مضاف الیه است.( پرویزناتل خانلری، دستور زبان فارسی)
از این که اینگونه ضمایر نمودار شخص چه مفرد و چه جمع میباشد بنابراین تعداد آن به شش میرسد:
من : شخص اول مفرد
ما : شخص اول جمع (مع الغیر)
تو: شخص دوم مفرد
شما: شخص دوم جمع
او (وی) : شخص سوم مفرد
ایشان (اوشان، آنان، انها) شخص سوم جمع.
(دوکتور محمد حسین یمین، دستور معاصر زبان پارسی دری)
پورته لیکل شویو پېژندونو ته په کتو سره، باید ووایم چي د دري ژبې په کلاسیکو ګرامر لیکنو کي تولو ګرام لیکوونکو د دري ژبې ځانګړي نومځري په دوو برخو (منفصل او متصل) باندې وېشلي دي. خو لکه څرنګه چي د ښاغلي یمین او نکهت سعیدي لیکلي ګرامرونه د اوسني ګرام لیکني پر بنسټ لیکل شوي. دوی په دري ژبه کي ځانګړي نومځري یوازې یو ډول ګڼي، دلیل یي دا راوړي چي په کلاسیکه دوره کي هغه کارول کېدل، خو اصلاً هغه ( تصریفي او ضمیري روستاړي ) دي، نه نومځري... نو ځکه ځانګړي نومځري یوازې یو ډول ګڼي.
من: د متکلم لومړي کس (نارینه او ښځینه) دواړو لپاره کارول کیږي. د من جمع حالت "ما " دی، چي پخپله د مفرد متکلم لپاره هم کارول کیږي. لکه: ما درس خواندیم. په دغه جمله "ما" د مفرد او جمع دواړو استازیتوب کوي. من او ما په دریواړو زمانو کي له لازمي او متعدي افعالو سره کارول کیږي.
لومړی: اوس مهال لازمي فعل او متعدي فعل سره :

- من/ ما میروم یا میرویم، من/ ما درس می خوانم یا می خوانیم....
- تو/ شما می روی یا شما میروید، تو/ شما درس می خوانی یا میخوانید...
- او/ ایشان میرود ، او/ ایشان درس می خواند...

دویم : راتلونکي مهال لازمي او متعدي فعل سره:

- من/ ما خواهم رفت یا خواهیم رفت، من/ ما درس خواهم خواند یا خواهیم خواند...
- تو/ شما خواهی رفت یا خواهید رفت، تو/ شما درس خواهی خواند یا خواهید خواند...
- او/ ایشان خواهد رفت یا خواهند رفت، تو/ شما درس خواهی خواند یا خواهید خواند...

دریم : تېرمهال، لازمي او متعدي فعل سره:

- من/ ما رفتم یا رفتیم، من/ ما درس خواندم یا خواندیم...
- تو/ شما رفتی یا رفتید، تو/شما درس خواندی یا خواندید....
- او/ ایشان رفت یا رفتند، او/ ایشان درس خواند یا خواندند...
- هر کله چي د (من و ما، تو و شما، او و ایشان) نومځري مخکي له فعل څخه راشي او د فاعل په ځای کي راشي،نو فاعلي نومځری بلل کیږي. لکه : من خواندم، ما خواندیم، تو خواندی، شما خواندید او خواند، ایشان خواندن... که چېرې دغه نومځري د (( را )) له روستاړي او متعدي فعل سره راشي، مفعولي نومځري بلل کیږي.

په د غه حال کي د (من) له نومځري څخه د (ن) او د (تو) له مځري څخه د (و) توری لرې شي، لکه : مرا گفت، مارا گفت، ترا گفت، شما را گفت، ایشان راگفت، او را گفت.... که چیري دغه نومځري وروسته له متعلقو نومونو راشي، اضافي نومځري بلل کیږي. لکه : قلمِ من ، قلمِ ما، قلمِ تو، قلمِ شما، قلمِ او، قلمِ ایشان...

**د ترکي ژبې ځانګړي نومځري**

:Şahısların yerini tutan kelimelere şahıs zamirleri denir. Şahıs zamirleri şunlardır
Ben, Sen, O, Biz, Siz , Onlar

په ترکي ژبه کي هم د دري ژبې په شان ځانګړي نومځري شپږ صیغي لري. همدارنګه د ترکي ژبې په کلاسیکو دورو کي د دري ژبې په شان جمع الجمع نومځري درلودل، چي په اوسني ګرامر لیکنه کي نه کارول کیږي. موږ په دري ژبه کي پخوا جمع الجمع نومځري درلودل لکه: ماهاء، شما ها .... چي اوس نه کارول کیږي، همدا ډول په ترکي ژبه کي هم جمع الجمع شته چي اوس نه کارول کیږي. لکه: ( Biz, Siz ) د ترکي ژبې د متکلم او مخاطب جمع حالت نومځري دي، چي په پښتو او دري کي (Biz)) ته موږ او دري کي ما نومځري کاروو همدارنګه ( Siz) ته موږ په پښتو ژبه کي تاسو/ تاسي او په دري ژبه کي شما کاروو. ددغو نومځرو جمع الجمع په ( Bizler, Sizler ) باندي تر سره کېده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

Ben : د پښتو له ( زه او ما ) او دري ژبې له ( من ) سره يوشان دی. چې د نارينه او ښځينه متکلم لپاره کارول کيږي. همدارنګه ((Biz د ( Ben) جمع حالت دی، چې د پښتو له ( موږ ) او دري ژبې له ( ما ) سره يو شان دی.
Sen: د پښتو له ( ته، تا ) او دري ژبې له ( تو ) سره يوشان دی. چې د نارينه او ښځينه مخاطب لپاره کارول کيږي. همدارنګه ( Siz) د ( Sen) جمع حالت دی، چې د پښتو له ( تاسو، تاسي ) او دري ژبې له ( شما ) سره يو شان دی.
O : د پښتو له (دی/ ده، دا/ دي ) او دري ژبې له ( او ) سره يوشان دی. چې د درېيم نارينه و ښځينه اشخاصو او اشيا لپاره کارول کيږي. همدارنګه (Onlar) د ( O) جمع حالت دی، چې د پښتو له ( هغوی،دوی ) او دري ژبې له (ايشان) سره يو شان دی. Onlar kitap Okuyorlar

ياد نومځري له لازمي او متعدي فعل سره په ټولو مهالونو کې کارول کيږي. دلته يې له بېلګو سره راوړم:
لومړی: له لازمي او متعدي فعل سره په اوس مهال کې:

- Ben gidiyorum / Ben Kitap Okuyorum زه ځم/ زه کتاب لولم، من ميروم/ من کتاب ميخوانم. Biz gidiyoruz/ Biz Kitap Okuyoruz موږ ځو/ مو کتاب لولو. ما می خوانيم/ ما کتاب می خوانيم
- Sen gidiyorsun/ Sen kitap Okuyorsun/ ته کتاب لولې. تو می روی/ تو کتاب می خوانی. Siz gidiyorsunuz/ Siz kitap Okuyorsunuz ته ځې: تاسو، تاسي ځئ/ تاسو، تاسي کتاب لولئ. شما ميرويد/ شما کتاب ميخوانيد.
- O gidiyor / O kitap Okuyor. دی، دا ځي/ دی،دا کتاب لولي. او ميرود/ او کتاب می خواند Onlar gidiyorlar/ Onlar kitap Okuyorlar: دوی، هغوی ځي/ دوی، هغوی کتاب لولي. ايشان ميروند/ ايشان کتاب ميخوانند.

دويم: له لازمي او متعدي فعل سره په راتلونکي مهال کې :

- Ben gideceğim / Ben Kitap Okuyacağım زه به ولاړشم/ زه به کتاب و لولم، من خواهم رفت / من کتاب خواهم خواند. Biz gideceğiz/ Biz Kitap Okuyacağız موږ به ولاړ شو/ مو به کتاب لولو. ما خواهيم رفت/ ما کتاب خواهيم خواند.
- Sen gideceksin/ Sen kitap Okuyacaksın/ ته به کتاب ولولې. تو خواهی رفتی/ تو کتاب خواهی خواند Siz gideceksiniz/ Siz kitap Okuyacaksınız: تاسو، تاسي به ولاړشئ/ تاسو، تاسي به کتاب ولولئ. شما خواهيد رفت/ شما کتاب خواهيد خواند.
- O gidecek / O kitap Okuyacak. دی، دا به ولاړ شي/ دی،دا به کتاب ولولي. او خواهد رفت/ او کتاب خواهد خواند Onlar gidecekler/ Onlar kitap Okuyacaklar : دوی، هغوی به ولاړ شي/ دوی، هغوی به کتاب ولولي. ايشان خواهد رفتن/ ايشان کتاب خواهد خوانندد

درېيم : له لازمي او متعدي فعل سره په تېر مهال کې:

- Ben gittim / Ben Kitap Okudum زه ولاړم/ ما کتاب ولوست، من رفتم/ من کتاب خواندم. Biz gittik/ Biz Kitap Okuduk موږ ولاړو / موږ کتاب ولوست. ما رفتيم/ ما کتاب خوانديم.
- Sen gittin / Sen kitap Okudun/ ته ولاړ شې. تو رفتی/ تو کتاب خواندی Siz gittiniz/ Siz kitap Okudunuz: تاسو، تاسي ولاړئ/ تاسو، تاسي کتاب ولوست. شما رفتين/ شما کتاب خوانديد.
- O gitti / O kitap Okudu. دی، دا تللی يا تللې/ ده، دې کتاب ولوست. او رفت / او کتاب خواند Onlar gittiler / Onlar kitap Okudular : دوی، هغوی ولاړل يا ولاړې/ دوی، هغوی کتاب لوست. ايشان رفتن/ ايشان کتاب خواندند
- **د دري او پښتو ژبو د ځانګړو نومځرو پرتلنه**
- په دري ژبه کې دري( من، تو، او ) ځانګړي نومځري دي، چې همدا دري نومځري د (مذکر، مونث، ځيزو...) لپاره کارول کيږي. د دري ژبې برخلاف په پښتو ژبه کې ځانګړي نومځري له خپلو اوښتو بڼو سره دولس( زه – ما، ته – تا، دی- ده، دا- دې، هغه- هغهٔ، هغه- هغې ) دي، چې د هر شخص لپاره دوه دوه کارول کيږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

- په دري ژبه کې د پښتو ژبې خلاف، ځانګړي نومځري اوښتې بڼه نه لري. د پښتو ژبې هر نومځری یو اوښتي بڼه لري، چې په دې کار سره له یوې خوا د پښتو ژبې زده کوونکو ته د نومځرو زده کړه یو څه ستونزمنه وي، خو له بلې خوا د پښتو ژبې د ګرامر په بشپړتوب دلالت کوي. په پښتو ژبه کې د اوښتو نومځرو شتون ددې لامل شوی، چې د نومځرو د زده کړې لپاره باید لازمي، متعدي او متعدي حکمي فعل هم زده شي، ځکه د پښتو ژبې ډېري اوښتي یا د دويم حالت نومځري له متعدي او متعدي حکمي فعل سره کارول کیږي. خو په دري ژبه کې په لازمي او متعدي فعل ځانګړي پاملرنه نه کیږي، ځکه هلته په نورمال ډول ځانګړي نومځري له لازمي او متعدي فعل سره په هر مهال کې کارول کیږي.
- په دري ژبه کې د مونث او مذکر دریيم کس لپاره په ټولو مهالونو کې یو نومځری ( او ) کارول کیږي، چې دا کار په فاعلي نومځرو کې د مونث او مذکر توپیر نشي ځرګندولی. د بېلګې په توګه: او آمد، او آمده بود، او خواهد آمد. که دغو جملو ته ځير شو، نو دا نه تري ځرګندیږي چې نارینه را ځي او که ښځینه.... خو په پښتو ژبه کې د دریيم شخص ( نارینه او ښځینه ) لپاره په اصلي حالت کې (( هغه )) او په اوښتي حالت کې چې په تېر مهال کې کارول کیږی، دوه بېل بېل نومځري ( هغهٔ او هغې ) کارول کیږي. هېره دې نه وي،چې د پښتو ژبې (( هغه )) نومځری په فاعلي حالت کې د مذکر او مونث توپیر کولی شي. لکه : هغه راغی. هغه راغله. چې لومړی یې د مذکر او دویم یې د مونث استازيتوب کوي....
- پښتو ژبه کمزوري نومځري ( مې – مو ، دې- مو او یې – یې )لري. د دري ژبې پخواني ګرامر لیکوونکي ( تصریفي یا ضمیري ) روستاړي د کمزورو نومځرو په نوم یاد کړي، خو ښاغلی یمین او سعیدي په خپلو اثارو کې چې د معاصرې ګرامر لیکني له مخې یې لیکلي، ( تصریفي او ضمیري ) روستاړي کمزوري نومځري نه ګڼي او وایي چې: د دري ژبې ځانګړي نومځري یو ډول دي، هغه هم منفصل یا خپلواک او د ( ام، یم ،ی ، ید، اد ، اند. لکه: نویسم...) روستاړي کمزوري نومځري نه، بلکې صرفي روستاړي دي. نو په پایله کې ویلی شو،چې دري ژبه کمزوري نومځري نه لري. خو د دري ژبې برخلاف پښتو ژبه کمزوري نومځري لري چې کله د فاعل ( درس مې ولوست ) کار کوي، کله هم د ملکي نومځرو ( کتاب مې راکړه ) او کله هم د مفعول ( احمد مې وهي ) په توګه کار کوي.
- په دري ژبه کې د اضافي نومځرو جوړونه په دې ډول ده: کله چې ځانګړي نومځري دخپل متعلق نوم څخه وروسته راشي، د اضافي نومځرو په نوم یادیږي. لکه : کتاب من ، کتاب ما... خو په پښتو ژبه کې اضافي نومځري د کمزورو او غښتلیو نومځرو په واسطه جوړیږي. لکه : ( زما قلم راکړه، قلم مې راکړه )....
- په دري ژبه کې دمتکلم لومړي شخص جمع حالت ( ما ) ته، لومړی مفرد مع الغیر وایي، د اځکه چې همدا ( ما ) نومځری په جمله کې د زیاتو وګړو ترڅنګ په مفرد هم دلالت کوي. لکه : ما درس میخوانیم. دا د مفرد او جمع دواړو لپاره کارول کیږي. خو د پښتو ژبې ( موږ ) نومځری برخلاف یوازې د زیاتو وګړو استازیتوب کوي.
- د دري ژبې د نومځرو فاعلي حالت: هر کله چې ځانګړي نومځري له فعل څخه مخکې راشي او د فاعل په ځای کې راشي، فاعلي نومځري بلل کیږي. لکه : من خواندم، ما خواندیم... په پښتو ژبه کې هم په غښتلیو نومځرو کې همدا قاعده پلې کیږي، لکه : زه کار کوم. دلته زه فاعلي نومځری دی، خو د غښتلو نومځرو ترڅنګ د پښتو ژبې کمزوري نومځري هم فاعلي نومځري جوړولی شي، مګر کمزوري نومځري د فعل څخه مخکې او مفعول څخه وروسته راځي. لکه : درس مې ولوست، لوبه مې وکړه....
- د دري ژبې مفعولي نومځري له متعدي فعل سره په راتګ سره جوړیږي، په دې قاعده کې د لومړي متکلم من او دویم مخاطب شخص څخه د ( ن او و ) توري له منځه ځي. کله : مرا گفت ،تر گفت ... په پښتو ژبه کې هم مفعولي نومځري له متعدي فعل سره په غښتلیو او کمزورو نومځرو کې جوړي. خو په دې توپیر چې د نومځری کوم توری نه لویږي. لکه : احمد ما خندوي، احمد زه خندوم ، احمد به ما وخندوي.... احمد مې وهي....
- **د ترکي او پښتو ژبو د ځانګړو نومځرو پرتلنه**
- ترکي ژبه د پښتو ژبې پر خلاف، دري ځانګړي نومځري ( Ben, Sen, O ) لري. چې په پښتو ژبه کې دولس ځانګړي نومځري دي. یعني د هر شخص لپاره دوه نومځري کارول کیږي.
- ترکي ژبه کې ځانګړي نومځري، کمزوري یا متصل نومځري نه لري، خو پښتو ژبه یې برعکس لري.
- په ترکي ژبه کې د دریيم ( مذکر ،مونث او اشیاوو ) لپاره یوازې یو نومځري ( O ) کارول کیږي. همدارنګه په افعالو او جملو کې ددغه نومځري په کارولو سره د مذکر او مونث پېژندنه نه کیږي. لکه : O Geliyor هغه راځي، که همدا جمله په تېره او راتلونکې زمانه کې هم وکارو، نو د مونث او مذکر توپیر نه شو کولی. خو د ترکي ژبې برعکس موږ په پښتو ژبه کې د دریيم ( مذکر او مونث ) لپاره، بېل بېل نومځري لرو، لکه : ( دی- دهٔ ، دا – دې، هغه – هغهٔ، هغه – هغې ) چې اصلي او اوښتی حالت یې مهالونو پورې اړوند دی.
- د ترکي ژبې فاعلي نومځري د پښتو ژبې د غښتلیو نومځرو په شان له متعدي فعل سره جوړیږي، لکه : Ben yazıyorum زه لیکم. خو په پښتو ژبه کې د غښتلیو نومځرو ترڅنګ په کمزورو نومځرو کې هم فاعلي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

نومځري جوړيږي، هغه په داسي بڼه چي نومځری د فعل څخه مخکی راځي او له مفعول څخه وروسته، لکه : کتاب مي ولوست.

- په ترکي ژبه کی اضافي نومځري د روستاړو او ملکي نومځرو په واسطه جوړیږي. موږ په ترکي ژبه کی کولی شو، پرته له نومځرو د(m,n,sı,nız,mız,ları,muz...) روستاړو په واسطه اضافي حالت جوړ کړو. لکه : arabam, araban موټر مي، موټر دي. خو په پښتو ژبه کی اضافي نومځري د غښتليو نومځرو ترڅنګ په کمزورو نومځرو باندي هم جوړيږي، لکه : کتاب مي راکړه، کتاب دي واخله ....
- په ترکي ژبه کي مفعولي نومځري، له متعدي فعل سره جوړيږي، خو مفعولي نومځري د اصلي نومځري سره د ځيلواکو فونيمونو په نښلولو سره جوړيږي، لکه : Ben,Sen... چي اصلي ځانګړي نومځري دي، ورسره د ( i,u...) فونيمونو په نښلو سره جوړيږي. لکه : ehmat Beni dövüyor, ehmet Seni dövüyor احمد ما وهي، احمد تا وهي.خو پښتو ژبه کی مفعولي نومځري په غښتليو او کمزورو دواړو نومځرو کی جوړيږي. لکه : احمد زه ووهلم. احمد ما وهي، احمد مي وهي، احمد دي وهي...

## ماخذونه:


1. پښتو پښويه ( ګرامر ) دریيم چاپ ( ۱۳۸۴ ل )، ليکوال : زيار
2. پښتو فونولوژي او مورفولوژي: خويشکی
3. پښتو ژبدود ( ګرامر ) : محبوب
4. نومځري : اغا شيرين شهباز
5. دستور معاصر زبان پارسی دری: يمين
6. دستور معاصر زبان پارسی دری : سعيدی
7. دستور زبان فارسی دري :پرویز ناتل خانلری
8. Gökkuşağı dil bilgisi 1
9. id=100018&https://m.facebook.com/story.php?story_fbid=420284628599538540133078
10. https://l.facebook.com/l.php?u=https%3A%2F%2Fwww.google.com%2Famp%2Fs%2Fwww.turkdilbilgisi.com%2Fsozcuk-turleri%2Fkisi-zamiri.html%2Famp%3Ffbclid%3DIwAR1TNqMY6kHJhn2FeOZYaf8HSel3tyqSrMh=AT0c5wEfaHu2dgQfHobmVWqiDd-&MmRo7_sXj5B_ISBre2tZ-BkHwS8n_pbZy4PSX6_snseos8p8HTR8IMMNIUP9-krC8cEz4qBnnlJUwsrozQCYpBu51zdHN8xy5FdYpg3sDjFP2-Gmf8MeYQ03xNYJ424eTS


247 total views, 39 views today



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ